# د "بشپړه سړي" تصور د تاریخ په رڼا کښې

## تحقیقي او تنقیدي جاج

## The Idea of Ample Man in History  A research and critical Study

Sajjad Elahi*
Dr. Shakeel Ahmad**

**Introduction:**

Human being is child of evolution. The Heavens has thoroughly guided him through ages and the man then learned "thinking" which made humanity the inheritor of the treasures of wisdom. The humanity in its whole is the heir of this ultimate wisdom. The finest presentation of that very wisdom and its transformation from one generation to another generation is though a holy interest and the men who play a role in this tribute, are honored as legends.

The knowledge and wisdom have always enabled human race to bring into light the ideas that enlighten the upcoming races. The "man" has always remained the nucleus of all ideologies. "Adam", "Super Human", "Mard-e-Mumin" and "Faqir" are such terms introduced in literature to explore the characteristics of an "Ample Man".

**Key Words :-** evolution,humanity, inheritor, legends, ideologies, Adam, Super Human, Mard-e-Mumin

د انساني شعور ارتقا له ډېرو پړاونو نه پس ته په دې مقام ولاړه ده خو بیا هم هر څو که د نن دور انسان ځان پرمختللے ګڼي نو شاید چې د خوش فهمۍ یا تېروتنې سره مخ دے. ځکه چې په کوم ډول دغه ارتقا ده نو بربښي داسې چې لا خو په سبر کښې پُوښۍ نۀ ده وېشلې شوې. نن هم یو ټولګے انسان دے چې صرف د کائناتو تسخیر کوي د زمکې نه د پورته دنیا ګانو تکل کښې دے ولې په اربونو انسانان که د غارونو نه صرف کوټګو ته شوي دي خو ذهني ډول لا هاغسې د غارونو خلق دي او بیا چې د وړومبي انسانانو متعلق کومه پېشن ګوئي د فرښتو سره منسوب ده لکه چې خدا ے ورته خبره کوي او هغوي ورته وائي چې!

---

* PhD sculler Department of Pashtu UOP
** Lecturer Department of Pashtu UOP

"وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً ۖ قَالُوا أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ ۖ قَالَ إِنِّي أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ "[۱]

ژباړه : او بیا یاد کړئ هغه وخت چې خدا ے پاک فرښتو تـه وفرمائیـل زهٔ خپلې زمکې لـه یـو خلیفه ټاکل غواړم ـ هغوي ورته پـه ځـواب کښې ووئیـل چې تاسو پـه دې کښې داسې مخلوق نائب ګرځول غواړئ ځوک چې شر کوي او د یو بل سره مشت او ګریوان (وینې تویـول) وي مـونږ ستا د ثنا صفات بیانوو ـ خدا ے پاک وفرمائیل ! ما ته د هغه څهٔ معلومات شته کوم چې تاسو ته نشته ـ که فرض کړه هم د دغه ایت په تناظر کښې د نن دور انساني شعور ته ګورو نو لګه چې د ے نن هم لا په هغه ځا ے ولاړ د ے د کوم ځا ے نه چې لا دهٔ د شعور پـه لـور ګام نهٔ وهٔ پورتـه کړ ے ـ چرته چې فرښتو د ے په دغه مخلوق کښې "وینو تویولو والا او شري فسـادي ګڼلو ـ بـل طرف ته خدا ے هم ورته وائي چې ماته د څهٔ علم وي د هغې تاسو ته نشته ـ یعنې دا انسان به یوه ورځ د انسانیت په لوړه درجه ولاړ وي ـ خو نـن نهٔ د ے ، نـن د بـارودو پـه ډېري د شر او وینـې تویولو سره مخ د ے ـ خو بیا هم چې له دغې بحث سره سم مونږه د انسان په دغه لنډه ارتقا نظر کوو نو هم په لکهونو یا زرګونو کلونه ئې اړولي دي ـ د ے که لږ ډېر د څلوري نـه پـه دوه شـو ے د ے نو د هغې په شا د ځینې خاص انسانانو تصورات ، تعلیمات یا د ژوند عملي نمونې پرتـې دي چې دغه مخلوق په مختلفو ځایونو کښې له ګوتې نیسي او د اصلاح سبب ئې ګرځي ـ دلتـه په دې موضوع کښې به مونږه دغه خاص انسانان چې خپله عملي نمونې ګرځېدلې دي او ځینـې هغه انسانان چې تصورات ئې سبب ګرځېدلي دي د "بشپړه سړي" پـه تـاریخي ارتقـا کښـې ئـې بیانوو ـ ولې دې سره سره به مونږه په هغه تصوراتو هم رڼا اچوو کوم چې خیالي کردارونه دي خو ولې دغه کردارونه د توهماتو غوندې د دیوتاګانو یا د مافوق الفطرت سره منسوب دي ـ لکـه د ادم علیـه السـلام ، انسـان کامـل (محمد ص) ، زرتشـت ، بـدها ، کردارونـه حقیقي دي خـو د هنـد کرش او د جرمن اوبر مېنش کردارونه تصوراتي دي ـ دغسې د خوشحال ختک د بشپړه سـړي تصور داسې د ے چې خیالي یا تصوراتي هم د ے خو ممکن هم د ے چې موجود وي او یا شاید چې په وجود کښې راشي ـ دغه ټول زهٔ دلته د ائیډیل کردارونو پـه شـکل کښـې وړاندې کوم ـ د انسان د تصور متعلق بېدار اصلز ے وائي چې ! "د دیو مالائي قیصو نـه تـر مـذهبونو او فلسـفو نه تر سائنس د انسان د څېړنې درې بنیادي ډګرونه پاتي شوي دي خدا ے ، کائنات او پـه خپلـه انسان ـ او رښتیا هم دا ده چې د دې څېړنو تر مخه خو دا دومره علمي او سائنسي مـزل انسـان کړ ے شـو ے د ے او روان د ے لا ئـې کـوي ـ اوس چې د انسـان سره تړلـي کـوم بحثونـه دي هغـه

زیاتره د فلسفې د ارزښت پوهنې Axiology د څانګې اخلاقیات Ethics سره تړلي دي. اخلاقیات د انسان د کړو وړو Human conduct د مباحثو ډګر دے یا مونږ دا ګڼلے شو چې اخلاقیات د دوه بنیادي انساني سوالونو د بحث سره تړلي شوي دي چې وړومبے سوال ښۀ Good او بد Bad څۀ دي؟ دوېم سوال سم Right او ناسم Wrong څۀ دي؟"[۲]

هم د دغه سوالونو په تناظر کښې یو څوک دا سې پېدا شي چې هغه په عملي طور یا په تصوراتي یعنې فکري طور د دې ځوابونو د حل د پاره یوه داسې نمونه وړاندې کړي چې د هغې په نتیجه کښې د یو بشپړه انسان وجود مخې ته راشي. دغه بشپړه تصور که مونږه د سر نه راخلو نو ښه به دا وي چې د وړومبي باشعوره انسان ادم نه ئې شروع کړو.

د ادمؑ ADAM تصور: مونږه چې د "بشپړه سړي" تاریخي څېړنه کوو نو لازمي ده چې د هغه انسان نه به ئې شروع کوو چا چې د شعور په اولني پاتکي باندې پل ایښودے وي. دغه اولنے انسان مونږ سره د ادم کردار دے چې تمام مذهبونه ئې هم اولنے ګڼي او سائنس پوهنه هم. خو په مذهب او سائنس پوهنه کښې لږ غوندې توپیر دا دے چې دا دواړه د یو بل په ضد اودرولي شوي دي. د یو بل په ضد ودرولو سره د ادم دغه تصور هم په دوه ډوله شوے دے. د اسرائیلیاتو تر مخه ادم د کائناتو وړومبے انسان دے او د علمي طبعیاتو له مخه ادم وړومبے انسان خو نۀ دے البته وړومبنے باشعوره انسان دے کوم چې به د خپل وخت د انساني ټولنې د ائیډیل تصور مجسم شکل ؤ. هم دغسې ادم هم وړومبے پېغمبر دے د کوم ځائے نه چې مونږه ووئیل چې د انسان د سوچ درې مرکزونه پاتې شوي دي د ځان پېژندل، د خدائے تصور کول او په کائناتو رڼا اچول. اوس یو وخت داسې هم ؤ چې انسان وحشي ځناور ؤ لکه څنګه چې نن هم په مختلفو ځنګلونو کښې داسې قبایل شته چې د بلې ټولنې انسان نۀ قبلوي. خو زۀ چې کوم وحشي توب بیانوم هغه وحشي توب ؤ کله چې د دۀ نوم د سره د "سوشل" ټکے نۀ و لګېدلے. یعنې نن که مونږه دۀ ته Social Animal وایو نو داسې به وګڼو چې دغه وخت دے صرف د Animal په شکل کښې موجود ؤ. دغه انسان کښې به د ځان پېژندنې د خدائے پېژندنې او د کائناتو د پېژندنې تصور راولاړ شوے وي. د کومې په نتیجه کښې چې د ادم په ټولنه کښې ظهور شوے دے. ادم په اول ځل د بشپړه سړي په ډول د خېر او شر نه پرته د خدائے د وحدانیت تصور راوړي او په زمکه ټولنیز ژوند ابادوي د چرته نه چې د Social Animal شروع کېږي. د ادم متعلق چې مونږه سره کوم اسرئیلي معلومات دي هغه دلته په حواله کښې د راوړلو نۀ دي ولې چرته چې قراني تعلیمات دي هلته د ادم د قابلیت، همت او د ژوند د ودانۍ ذکر کېږي. په خپل وخت په

لکهونو انسانانو کښې ادم تر قیامته د ټولنې د پاره مثال پاتې کېدل دا ښائي چې هغه "بشپړه انسان" ؤ چا چې په اول ځل څیزنه وپېژندل غرېئي په ژبه کښې بدل کړو خبرې ئې وکړې لکه قران پاک کښې چې خدا ے پاک وائي !

"وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلَائِكَةِ فَقَالَ أَنبِئُونِي بِأَسْمَاءِ هَٰؤُلَاءِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ [۳] "

ژباړه: او ښیا خدا ے پاک ادم ته د ټولو څیزونو نومونه وښودل او فرښتو ته ئې ووئیل چې که تاسو رښتونې ئې نو ماته د دې نومونه وښایئ۔

د "بدھا" تصور: بدھ ایزم د سدارتھ مهاتمه ګوتم بدھ له خوا مخې ته راغلي مذهبي افکار دي چې په شپږمه صدی قبل مسیح کښې د هندوستان په خاوره زېږېدلي دي او ورستو دغه افکار تر بامیان ښاره رسېدلي دي کوم چې د پښتنو بنیادي مشهور ښار ؤ۔ سدارت ګوتم بدھ د هند سره په خوا کښې زېږېدلې ؤ چرته چې نن سبا نیپال دے۔ د یو باچا زوے ؤ هر قسمه عېش او عشرت ورته ترلاسه ؤ۔ خو لکه څنګه چې د انساني شعوري ارتقا نه څرګنده ده چې انسان په یو حال هم نۀ وي خوشحاله، "دے د تغیربچے دے"۔ دغه تغیر په دۀ باندې د کائناتو تسخیر کوي دغه تغیر دے سپر مېن هم تصور کوي او انسان کامل هم۔ که چرې مونږه د ګوتم بدھ تعلیماتو ته نظر کوو نو د هغۀ د "بشپړه سړي" تصور مذهبي افکارو ته ورته دے۔ یعنې د بدھا ژوند خپله د عېش او ارام ؤ خو هغۀ لکه د ابراهیم علیه السلام دا تصور کوو چې د دې هر څۀ باوجود یو قوت شته او هغه دا نظام چلوي۔ بیا ئې په خپل ځان کښې دغه سوالونه راپېدا کړل چې زۀ ولې پېدا یم ، زۀ ولې پرېشانه یم، زۀ ولې نۀ خوشحالېږم ؟۔ په دغه تکل ګوتم بدھ خپل د باچاهۍ ژوند ته مخه ښه اووې او د حقیقت په لټون پسې ووتو۔ دغسې چې ګوتم بدھ چرته هم تلو هلته ئې هم دا پېغام ورکوۀ چې ! "انسان په مختلفو جنمونو "بار بار ژوند" کښې راځي۔ هر جنم کښې چې دے پېدا شي دغه جنم د دۀ په لاس کښې وي که دے ښۀ اخلاق خپل کړي او ځان "نروان" سره مخ کړي نو راروان جنم کښې به دے مطمئن پېدا کېږي۔ دے د خپل ژوند مالک په خپله دے ولې د دۀ پېدا کېدل د دۀ په لاس دي .دا زندګي په اصل کښې صرف درد او غم دے چې د دۀ سبب د نفس خواهشات دي۔ دغه خواهشات به هله لړې کېږي چې سړے بدھا شي [۴] "

دلته دا اخره جمله چې "سړے بدھا شي" نه مطلب چې سړے عارف شي ولې چې په سنسکرت کښې بدھا کامل انسان یا عارف انسان ته وئیل شي۔ د ګوتم بدھ موجوده تعلیمات د مذهب په

ځاے په اخلاقیاتو او هیومنزم باندې زور ورکوي. کوم انسان چې دغه هڅه وکړي چې هر ساه اخستونکے ځیز نۀ ازاروي نو هغه به کامل وي او په خپل ذات کښې به مطمئن وي. ولې د گوتم په خیال انسان پیدا له غمه دے او له دغه غمه ځان خلاصول د انسان اولنے مقصد دے. په جهان به هغه څوک راج کوي څوک چې د خپلو خواهشاتو نفي وکړي. دغه نفي وروستو د تصوف اصطلاح هم گرځېدلې ده لکه چې رحمان بابا وائي:

"ژوندے ځان په زمکه ښخ کړه لکه تخم
که لوئي غواړې د خاورو په مقام شه[۵]"

**په کنفیوشس ایزم (چین) کښې د بشپړه سړي تصور:** "کنفیوشس" د قدیم چین د شپږمې صدۍ قبل مسیح هغه سړے ؤ چا چې په خپل عصر کښې د اخلاقیاتو معیار د مذهب نه پرتله کېښودو. د دۀ افکار چې فرد ئې په کښې د کائناتو خالق تصور کړے دے او دغه فرد ئې د معاشرې غلام گرځولے دے. یعنې دے به د کائناتو خالق وي خو اخلاق به دومره لري چې د ځان سره به معاشره مخ په وړاندې بوځي. د دۀ خپل نوم "چیو کنگ" ؤ د خپلو پېرو کارو له خوا "کنگ فو" گرځولے شوے دے او هم دغسې د دۀ مکتب په کنفیوشزم یاد شوے دے. دۀ هم د یو بشپړه سړي د پاره خپل تصور وړاندې کړے دے. د کنفیوشز په خیال د انسان استاد د هغۀ خپل حکمت دے او دغه حکمت دے په کائناتو کښې خاص مخلوق تصور کوي.

> "The ideal man in Confucianism is completely moral, and his basic religious belief is that, "if a man implements moral rules correctly, he acts in harmony with the heaven's will"[۷]

> ژباړه: په کنفیوشزم کښې یو مثالي سړے په باقاعده توگه د اخلاقو خاوند وي او د هغۀ بنیادي مذهبي غوښتنې هم دغې ته ورته دي. که چرې یو څوک دغه اخلاقي اصول خپل کړي نو هغه به د جنت د اصولو سره سم کړۀ وړۀ لري."

**په یونان کښې د بشپړه سړي تصور:** مونږ چې د جدید دنیا څومره هم علوم راخلو نو د دې تمهید مونږه د یونان نه تړو. ولې چې یونان په یو وخت کښې د علم او دانش داسې مرکز پاتې شوے دے او داسې فلسفیان او شاعران ئې زېږولي دي چې د هغوي اثر نن هم په دنیا باندې خپور دے. که د جدید سائنس خبره راځي یا د ادب او فلسفې مونږه ئې بغېر د یوناني افکارو نه نۀ شو ځېړلے. هم دغسې زمونږه موضوع د تاریخ په رڼا کښې د بشپړه سړي تصور دے له دې وجې مخکښې بابونو کښې مونږه د یونان نه مخکښې دوره کښې درې مهم ستر ائیډیلونه

مخې ته راوړل چې د ادم، د بدها او د کنفیوشز وو۔ دلته چې مونږه د یونان تصور وړاندې کوو نو اول خبره دغه ده چې یونان کښې په یو وخت ډېر فلسفیان موجود وو او په دغه حواله د هر سړي جدا جدا نظر دے یعنې ائیډیل تصورات ئې ډېر دي خو مونږه به کوشش کوو چې دغه تصوراتو کښې خاص چاڼ نه کار واخلو او د "Free Socorates" یعنې د سقراط نه مخکښې دور نه ګام پورته کړو۔ خو دې سره سم د یونان مشهور شاعر "هومر" د بحث وړ دے۔ د هومر په رزمیه نظمونو کښې ځینې داسې "هیروز" مونږ وینو چې په خپل وخت کښې د یونان د پاره د ائیډیل تصور په توګه منل کېدل۔ د هومر دوه نظمونه "ایلیډ Iliad" او "اوډیسي Odyssey" هغه شاهکار نظمونه دي د کومې وجې چې یو اځې یونان یا د ټرائې ښارونه امر نۀ دي بلکې په دغې نظمونو کښې د بیان شوي کردارونه هم امر شوي دي۔ د ایلیډ نظم کوم چې د ټرائي Troy ښار په جنګ لیکل شوے دے او د دغې ښار په بربادۍ تمامېږي۔ د دغې نظم هیرو "اکلیس" دے خو د اکلیس کردار په دې نظم کښې د خبر او شر دواړو په نمائیندګۍ وړاندې شوے دے لکه د ایلیډ د نظم دغه مصرعې!

"اکلیس میدان جنگ کی طرف بڑھا
اس زہریلے سانپ کی طرح
جو اپنے اندر زہریلہ مادہ لے کر کسی انسان کی طرف لپکے
جس کی انکھوں سے شعلے نکل رہے ہوں
اور جو اپنے شکار کے لیے بل کھا رہے ہوں
یا اُس پہاڑی عقاب کی طرح
جو تیزی سے پرندے کی طرف بڑھے
جو بچانے کے لیے اگے اگے اُڑ رہا ہو
اور عقاب چیختا چلاتا اس پر لپکے[۷]"

"ژباړه :اکلیس لکه د هغې مار غوندې مخکښې روان شو کوم چې په خپله خلۀ کښې زهر نیولي وي او په یو انسان ورغوځېږي۔ یا د یو داسې شاهین غوندې چې په تېزۍ سره په یوه داسې مرغۍ ورغوځېږي کومه چې له دۀ نه مخکښې مخکښې تښتي"

د دې باوجود چې د اکليس کردار د نيم ديوتا هم دے کوم چې په ادبياتو کښې دننه زياتره فکشن ته ورته دے خو بيا هم د هغهٔ د هيرو دغه تصور به د کلهم انسانيت په ښېګړه يا د ټرائي د اوسېدونکو په خبر نهٔ تمامېږي ځکه دلته د اکليس نه ښهٔ تصور د اوډېسي دے څوک چې د خپل قام د پاره د روح په اواز پسې له کوره ورک دے. خپل مرګ ته د حقيقت په نظر ګوري او ځکه ئې د مرګ نه ويره نهٔ وي او چې د مرګ نه ئې ويره نهٔ وي هر مشکل ورته هم په دغه تصور اسانېدے شي. يوه مهمه نقطه دغه هم ده چې کله هغه د "ايتکا" ته ورسېدو نو هلته ئې امن قايم کړو. هومر دغه دواړه هيروز جنګيالي دي کوم چې د پخواني يونان د ديومالائي قيصو هيروز دي. له دې وجې ځيني نقادان د هومر د نظمونو د جنګونو دغه واقعات هم خيالي بولي. خو د اوډيسي کردار په اول ځل هومر د ديوتاګانو د کردار نه د انسان شکل ته راکوز کړے دے. د کوم د پاره چې مرګ شته او يا دغه کردار خپله مرګ ته غاړه اېښودې ده. لکه Gregory Nagy وائي !

> "The Odyssey is the most extended narrative about immortalization. But it happens only on a symbolic level. The Odyeesey makes it clear that Odysseus will have to die, even if the framework of the surface narrative[۸]" .

"ژباړه: اوډېسي د ژوند د پاره يو پراخه داستان دے چې په علامتي توګه مخې ته راغلے دے. په دې بيانيه کښې په اول ځل اوډېسي دا ځرګنده کړې ده چې هغهٔ له مرګ شته دے تر دې که هغهٔ د ديوتا په جامه کښې هم دے.

هم دغه دوره وه چې يونان کښې د توهماتو زوال شروع شو اوفکرونه د ديوتا نه انسان ته راکوزه شوي دي. د اوډېسي کردار په ادبياتو کښې په اول ځل د هغه اتل په توګه راغے کوم چې يا خواخرے ديوتا دے يا وړومبے انسان. افلاطون چې په ۴۲۷ قبل مسيح کښې په يونان کښې استوګن ؤ. د دهٔ کورنۍ د خپل وخت يوه لويه کورنۍ وه. د دهٔ خپل نوم "ارستوکليز" کېښودے شو خو ولې وروستو دے مشهور شوے په "افلاطون" دے. دے هغه وخت په باقاعده د فلسفې زده کونکےشو کله چې دے د خپل استاذ سقراط سره ملاو شو. افلاطون د فلسفې په تاريخ کښې لوے نوم لرلے دے او د هغې لويه وجه د دهٔ فلسفيانه کتاب (رياست) چې د علم سياست بنسټ هم ګڼلے شي په نړۍ کښې ځانګړے مقام لري. په دې کتاب کښې افلاطون په يو خيالي رياست غږېدلے دے او ښودلي ئې دي چې کاميابه رياست به په کوم ډول چلولے شي. هر څو که د افلاطون د دغه (خيالي رياست) سره ډېر اختلافات هم وشي خو په يو نا يو شکل کښې چې

چرته هم رياست په وجود کښې راځي نو هغه د افلاطون د رياست رنګ به په کښې وي. افلاطون دغه خپل رياست په درې طبقو خلقو باندې چلوي ،اوله طبقه کومه کښې چې به پوهان وي يعنې فلسفه به ئې زده وي او د رياست خاص څوکۍ به د دوي په غاړه وي چې مطلب ترې نه حاکمان دي. دوېمه هغه طبقه ده چې د دې رياست د امنيت د ساتلو د پاره کار ورکوي هغه ځوانان چې طاقت ور به وي مطلب ترې نه سپاهيان دي. درېمه طبقه بزګران يعنې کارکسب کونکي دي چې هغوي به سوداګري کوي او کرکيله به کوي. خو د دې هر څۀ نه پرته چې د افلاطون کوم ائيډيل تصور دے هغه به "فلسفي باچا" وي. دغه "فلسفي باچا" به د دې رياست په مذهبي ، اخلاقي، اصلاحي حالاتو باندې نظر لري. دلته فلسفي باچا نه مطلب هغه انسان دے کوم چې خپل ذهني ټول صلاحيتونه د خپل قام د پاره پکاروي او د انسانيت ښېګړه پرې روانه وي. د افلاطون دغه ائيډيل تصور ورستو د هغۀ د شاګرد ارسطو تصور هم ګرځېدلے دے. مونږه دا وئيلي شو چې د افلاطون د بشپړه سرې تصور په فلسفه ولاړ دے يعنې کوم څوک چې په فلسفه کښې د کمال درجې ته ورسي په فلسفه اخلاقياتو، فلسفه نفسياتو، فلسفه سماجياتو او فلسفه سياسياتو باندې عبور ولري. هم دغه قدرونه دي چې د افلاطون ائيډيل تصور پرې د بشپړتيا درجې ته رسي. لکه خپل کتاب "رياست" په يوه مکالمه کښې وائي چې !

*"میں : علم کی محبت اور عقل و حکمت کی الفت دونوں مترادف ہیں اور اسی کو دوسرے لفظوں میں فلسفہ کہتے ہیں۔*

*گلاکن : بیشک*

*میں : تو پھر کیا ہم یقین کے ساتھ دعویٰ نہیں کر سکتے کہ انسانوں کے ساتھ بھی وہی شخص دوستو اور شناساوں کے ساتھ نرمی کا برتاو کریگا جو بالطبع عقل اور علم سے محبت رکھتا ہو۔*

*گلاکن : کیوں نہیں ہم یقیناً یہ دعویٰ کرتے ہیں۔*

*میں : ریاست کا بہترین محافظ ہونے کے لیے جہاں جرات و دلیری ٗ طاقت اور چستی کی ضرورت ہیں وہاں فلسفی ہونا لازمی ہیں[۹]"*

ژباړه: زۀ: د علم سره مينه او د حکمت سره مينه دواړه د يو بل مترادف دي خو ولې په نورو لفظونو کښې دې ته فلسفه وئيلې شي.

ګلاکن: بېشکه

زۀ: نو بيا مونږه د يقين سره دا دعوي کولے شو چې د انسانانو سره به هغه څوک ښۀ سلوک کوي څوک چې د علم او حکمت سره مينه کوي ؟

ګلاکن: ولې نه دا خو زۀ په يقين سره وايمه

زۀ: د رياست د غوره محافظ د پاره چې چرته د مړانې، تُورې، طاقت او تندرستي ضروري ده نو دومره ورله فلسفي کېدل هم ضروري دي.

**په عرب کښې د انسان کامل تصور:** د عرب د تصور نه وړاندې پکار ده چې "يشو" عيسیٰ عليه السلام کردار هم بايد چې يادونه ئې وشي ولې چې د خدا ے پاک د زوے په توګه په ائيډيل تصور کښې منلے شوے دے مذهبي افکار ئې د صبر او د برداشت په قدرونو اړانه ده خو زمونږه موضوع يو خوا فلسفيانه ده او بل خوا د ادبياتو سره تړون لري له دې وجې د خالص مذهبي افکارو نه مو ځنډه وکړه چې په کښې ځيني مذهبونه مونږه نظر انداز کړل. په دې حواله ده "انسان کامل" تصور هر څو که په دين اسلام ولاړ دے خو دغه تصور دومره زورور دے چې پوره څوارلس صدۍ ئې د مشرق فلسفه او ادب کښې خپل ځان منلے دے. له دې وجې دغه کردار يو خوا که د فلسفه تصوف او اخلاقياتو حصه په ټول مشرق کښې ګرځېدلې ده نو بل خوا د مشرق لويو لويو شاعرانو هم دغه کردار د خپل ائيډيل حصه ګرځولے دے او تر دا دمه چې څومره هم د "انسان کامل" په نوم کردار مخې ته راځي هغه هم دغه د پېغمبر ص کردار ته ورته بيانېږي. د اسلام مقدسه دين چې په اوومه صدۍ عيسوي په عرب کښې په وجود کښې راغلے دے. دا مذهب د يو داسې انسان له خوا ټولې نړۍ ته وړاندې شو چې هغه په ظاهره خو د ليک لوست نه مبره يو شپونکے ؤ خو د وحي الهي له خوا هغۀ ته هر هغه روحاني علم ورکړے شو په کوم چې د انسانيت تصور تمامېږي. دغه کردار د حضرت محمد صلي الله عليه وآله وسلم دے.

د اسلام مقدسه دين د محمد (ص) د وحي الهي په ذريعه خپور شو. د ځا د پاره چې په قرآن مجيد کښې خدا ے پاک بيان کوي چې:

"وَاِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيمٍ"[10]

بې شکه چې تۀ د اخلاقو غوره نمونه ئې

دغه شخصي اخلاق وو چې په ټول عرب کښې هغه نظام له ځانه دومره متاثره کړو کوم ته چې نن هم زمانه جاهليت وئيلې شي. د پېغمبر پاک له خوا دين اسلام په لږ وخت کښې د نړۍ ګټ ګټ ته دغه مذهب ورسېدو چې نن ئې څوارلس سوه کاله پوره کېږي. هم دغه کردار دے چې د عربو له خوا هم او د ټول مشرق له پاره هم د "انسان کامل" په نوم وګرځېدو "انسان کامل" (Universal man) اصطلاح په اول ځل په دولسمه صدۍ عيسوي کښې د محي الدين ابن عربي (۱۱۲۵ء نه تر ۱۲۴۰ء) په تصوفي افکارو

کښې راښکاره کړو. ولې د دهٔ شاګرد عبدالکریم الجیلي (۱۳۶۵عیسوي نه تر ۱۴۴۰عیسوي) چې په بغداد کښې زېږېدلے ؤ ورته په بشپړه توګه د (انسان کامل) اصطلاح ورکړه چې تر ننه هم دغه اصطلاح د مشرق په ادبیاتو او اسلامي مذهب کښې مقبوله ده. زمونږه په تقابلي جایزه کښې به مخې ته د الجیلي ژوند او د هغهٔ دغه ائیډیل تصور (انسان کامل) په جامع انداز کښې بیانېږي.

ډارون ایزم: پورته بابونو کښې مونږه د نړۍ په مختلف مذهبونو او تهذیبونو کښې د "بشپړه سړي" په تصور رڼا واچوله چې مونږه ئې سر د "ادم" د کردار نه شروع کړے ؤ یقیناً چې په دې کښې به ځینې پېغمبران یا لوے خلق مونږه نظرانداز کړي وي یا به پرېښي وي ولې چې زمونږ کار صرف د "بشپړ سړي" د تصور سره دے له دې وجې دغه نامې زمونږه نه پاتې شوې. په دغه تناظر کښې راځو چې یو نظر په هغه چا هم واچوو چا چې په خپلو فلسفیانه افکارو کښې انسان ته یو خاص تصور لرلے دے. په هغو کښې ډارون هغه سړے دے چا چې په اتلسمه صدۍ کښې د ژوند په حقله کوم نظریات وړاندې کړل هغهٔ په دا حقله توهماتو جوړ بلها خیالات رد کړل. دې سره په نولسمه او شلمه صدۍ کښې یو بحث ونښتو چې یو خوا د ډارونزم منونکي چې په سائنسي شعور ولاړ وو بلخوا مذهبي نظریات لرونکي وو چې هغوي د ژوند د ارتقا نظریه د مذهب په ضد ګرځوي. په ډارون ایزم کښې د "بشپړه سړي" متعلق دومره نظریه مخې ته راځي چې څومره هم د ژوندي شیانو ارتقا شوې ده انسان د ارتقا معراج دے. یعنې دغه د کائناتو د ژوند ارتقا په انسان ولاړه ده او هم دا انسان دے چې د کائناتو تسخیر به کوي. د ډارون په نزد د نسلونو ارتقا د فطرت سره سمه شوې ده. کوم ژوندي څیزونو ته چې په موسم یا ماحول کښې فرق راشي نو دغه نسل ورکېږي. ولې انسان په دغو کښې یو ترقیافته ځناور دے چې دے په هر موسم او هر حال کښې دغه فطرت سره ځان بیائي.

مارکس ایزم: په فلسفه کښې موجود یو تصور د مارکسیزم هم دے چې د کارل مارکس له خوا په اتلسمه صدۍ کښې مخې ته راغلے دے. د کومې نه چې د کمیونزم او سوشل ایزم فلسفه په وجود کښې راځي. مارکسیزم بنیادي توګه په انساني طبقاتو زور راوړي او وائي چې انسانان ټول یو شان پیدا دي. دغه طبقات د ظلم ، جبر او ناانصافۍ د نتیجې له مخې ته راغلي دي. د مارکس په نظر کښې کامل انسان په هغه ټولنه کښې موندل ناممکنه دے چرته چې طبقاتي ژوند کوي بلکې یو ښهٔ او کامل انسان به هغه څوک وي چې د ټول اولس سره یو شان او د برابرۍ په بنیاد ژوند کوي او دغې ټولنې ته ښېګړه ورکوي.

**نطشے ازم:** د نطشے د "بشپړه سړي" تصور د جرمني د "اوبرمېنش" يعني د سپر مېن تصور دے چې په ټوله نړۍ کښې په فلسفه او ادبياتو کښې د "بشپړه سړي" متعلق تر ټولو ځانګړے او په شعوري توګه د ائيډيل کردار تصور دے. په مغرب کښې او په مشرق کښې د "بشپړه سړي" تصور په دوه ډوله له يو بله جدا دے. د مشرق بشپړه سړے د تصوف د نظرئې پېدا وار دے چې خپل هر عمل د خدائے له خوا ګڼي. ولې د مغرب او خاص ډول د نطشے تصور دغه اسماني تصوراتو نه انکار کوي. د نطشے سپر مېن هم لکه د ډارون هغه سړے چې د ارتقا نه پس مخې ته راغلې دے خو نطشے وائي چې دغه ارتقا اوس هم نيمګړې ده. انسان له پکار دي چې دے د انسان نه هم مخکښې لاړ شي او د يو مافوق الفطرت انسان شکل اختيار کړي کوم چې د اسماني تصور يعني د تقدير نه انکار کوي او په خپل عمل باندې تګ کوي.

**د اقبال "مردمومن"** د اقبال مردمومن د هند د تقسيم د سيوري لاندې د شلمې صدۍ په دريمه او څلورمه لسيزه کښې مخې ته راغلے تصور دے چې مرکزي خيال ئې هم هغه "انسان کامل" دے کوم چې د الجيلي له خوا د پېغمبر پاک کردار ګرځولے شوے دے. دغه کردار د مولانا رومي هم دے او د پير روښان هم. خو اقبال د شلمې صدۍ ترمخه په دغه کردار کښې د نطشے د سپر مېن او د خوشحال د ځينې افکارو نه هم استفاده کړې. د اقبال مردمومن چې د هغۀ تر مخه د انسان کامل نه کوم ځانګړنه لري هغه د فنافي الله نه پس بقا باالله ده چې انسان د خالق ځينې صفات خپل کړي او دغه د مردمومن په شکل کښې خليفه وګرځي.

**په پښتونخوا کښې د بشپړه سړي تصور:** تر ټولو اول د پښتونخوا څخه مراد د اموسين نه تر اباسين او د مارګلې تر لمنو په مېنځ کښې هغه جغرافيه ده په کومه چې پښتون قام له صدو صدو راهسې مېشته دے. مونږه چې د پښتون په تاريخ کښې د "بشپړه سړي" تصور کوو نو شايد چې د زردشت نه ئې په نظر کښې وساتو چا چې په اول ځل دنيا ته د عمل کولو پېغام وړاندې کړے دے. دغه عمل ئې د خېر او شر مجموعه ګرځولې ده.

**د پير روښان "کامل پير":** بايزيد انصاري (پير روښان) چې په ۹۳۱هجري کښې په کاڼي ګرم وزيرستان کښې پېدا شوے ؤ. په ډېرو حوالو ورته د پښتنو په تاريخ او ادب کښې د اوليت مقام حاصل دے. دے چې زلمے شو نو دغه وخت د هندوستان او کابل واک د مغل اکبر په لاس کښې ؤ. مغلو د پښتنو سره خپله پلرنۍ دښمني ښۀ په زور کښې ساتله. په دغه کشمکش کښې بايزيد انصاري ليدل چې د پښتنو سره ظلمونه روان دي کورونه او مالونه ئې تالـه ترغـه کېږي.

بایزید انصاري د دغه حالاتو په ضد کښې د طریقت لار خپله کړه او اخر یو وخت داسې راغے چې د "پیر تمام" یا پیر کامل دعوه ئې وکړه. چې خلقو ته ئې په خپلې مریدۍ کښې شاملېدو بلنه ورکړه.

"فرض مې کړے دے په ادمیان چې طلب دې د "پیر تمام" د انبیاء د پوهې او
زما د پېژندګلۍ ئې ځائے په عرب ، په عجم یا په شام [11] "

د پیر تمام نه مراد هم دغه پیر کامل دے چې د پیر روښان د "بشپړه سړي" تصور دے. د صوفیانو د یوې ډلې په خیال چې خدائے پاک د نبوت سلسله په محمد (ص) ختمه کړې ده. خو د کاملیت تصور د الهام په ذریعه لا هغسې جاري ساتي. یعنې وخت په وخت داسې بنیادمان دې دنیا ته رالېږي چې هغوي د پېغمبر پاک د وارثانو شکل کښې د خپل وخت پیر تمام وي څوک چې انسانان له ګمراهیو نه پاکوي. هغوي د شریعت او طریقت په لارو سموي. بایزید انصاري چې له دغې ورستو پیر روښان وګرځېدو خپل ځان هم دغه پیر کامل ګڼې او خلقو ته تلقین کوي چې تاسو زما په ولقه کښې شامل شئ. د پیرروښان دغه پیرکامل کله کله په فقیر، مسکین لفظونو هم یادېږي.

**د خوشحال خان خټک د "بشپړه سړي تصور"** خوشحال خان خټک چې د پښتو ادب پلار ګڼلے شي هغهٔ په خپلو شعري کلیاتو کښې او دستارنامه کښې د یو "بشپړه کردار" مجسم شکل وړاندې کړے دے. دغه کردار په اول ځل په ۱۹۴۸ء کښې عبدالرؤف بېنوا په خپل کتاب "خوشحال خټک څهٔ وائي" کښې "د خوشحال مېړنے" په نوم یاد کړے دے، وروستو د ننګیالي، سردار، او د دستار سړي په نومونو هم یاد شوے دے. ولې دغه ټول نومونه په اول ځل طلال بېدار اصلزي "د بشپړه سړي" په اصطلاح کښې رابند کړي دي. د خوشحال خان خټک "بشپړه سړے" هم هغه سړے کېدے شي چې د هنر نه ډک وي او د پښتونولۍ په قدرونو پوره وي.

**د باچاخان د "خدائي خدمتګار" تصور:** د شلمې صدۍ په درېمه لسیزه کښې کښې چې د برطانیې واګې مضبوطې شوې وې ټول هند کښې ئې خپل نظام ښهٔ په جابرانه شان سره چلوهٔ. د پښتنو هغه سیمه کومه ئې چې د ډیورنډ په نوم له افغانستان نه راشکولې وه هلته ئې د "سرزمین بې ائین" په نوم هغه څهٔ کول کوم چې د ځناورو سره هم نهٔ کېږي. په دې دوران کښې د عبدالغفارخان عرف فخر افغان باچاخان مېدان ته راتلل او د ازادۍ هڅې په نوي ډول کول په ګړده پښتونخوا کښې یو انقلابي عمل ؤ. د باچاخان ټول ژوند لویه مبارزه او سترپا ده ولې

دلته مونږه د هغهٔ د ائيډيل کردار تصور باندې خبره کوو. باچاخان فکر کړے ؤ چې د جنګ او جهاد نه ښهٔ خبره داده چې اول پښتانهٔ قبايل په يو ټغر راټول کړي ،تعليمي شعور ورکړي ، سياسي شعور ورکړي او د قام اصلاحي شعور ورکړي. د هغې د پاره تر ټولو اول هغهٔ په خپله هڅې شروع کړې چې وئيل به ئې خلقو ته !

"زهٔ خو خدائي خدمتګار يمه زمانه چاته څهٔ تکليف دے. د خلکو خدمت کول غواړمه. عهدې يا پېسې د چانه نهٔ غواړمه د خدمت اجازت ترې غواړمه ځکه چې خدمت کول زما فطرت جوړ شوے دے. هسې په قلاره نهٔ شم کښېناستے. هم دا زما ژوند دے او هم دا زما د ژوند مقصد [۱۲]"

د دغې خدمت نه ورستو ئې يو تنظيم په ۱۹۲۹ء کښې د خدائي خدمتګار په نامه ساز کړو چې په کښې د باچاخان د خدائي خدمتګار تصور مخې ته راغے زهٔ ئې دلته د خلف نامې څهٔ حصه پېش کؤم.

۱. "زهٔ خپل نوم د خدائي خدمت ګارۍ د پاره په صداقت او ايماندارۍ سره وړاندې کؤمه.
۲. زهٔ به همېشه په عدم تشدد باندې عمل کومه.
۳. زهٔ به همېشه د ټول مخلوق يو شان خدمت کومه زما مرام به د وطن ازادي وي.
۴. زهٔ به همېشه په نېک او ښهٔ کارونو عمل کومه.

نتيجه:

- په دې ليک کښې مونږه د "بشپړه سړي" تصور د ادم عليه السلام نه تر شلمې صدۍ وتاکهٔ.
- د "بشپړه سړي" د پاره ټاکل شوي مذهبي او ټولنيز معيارونه مخې ته راغلل.
- په پښتونخوا کښې چا او په کوم ډول دغه تصور وړاندې کړے هم مخې ته راغلل.

# حوالې


۱. القران ، البقره ، ایت ۳۰
۲. اصلزے، طلال بېدار ، میاشتنۍ پښتون جنوري ۲۰۱۸ء ، مخ ۷۲
۳. القرآن ، البقره ، ایت ۳۱
۴. عسکر، حسن ، گوتم بدھ اور تعلیمات، فکشن ھاوس لاھور ، ۲۰۱۳ء، مخ ۲۳
۵. دیوان عبدالرحمان ،یونیورستي بک اېجنسي پېښور ، ۲۰۱۸ء، مخ ۲۲۴
٦. Nas, J. (1991). Comprehensive History of Religions (Translator: Hekmat, A., 4th ed.). Entesharatva Amoozesh Enghelab Eslami. (In Persian)
۷. روبي، احمد عقیل، علم دانش کے معمار، نیشنل بک فاونڈیشن شرکت پرنٹنگ پریس لاہور، ۲۰۱۱ء ص ۱۴
۸. http://www.cliffsnotes.com,introductaion
9. ریاست از افلاطون، مترجم ڈاکٹر صابر حسین ایم اے پی ایچ ڈی، جامعہ ملیہ برقی پریس دہلی، ۱۹۳۲ع، ص ۱۰۸
۱۰. القران ، القلم، ایت نمبر ۴
۱۱. بایزید انصاري ، خیر البیان، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون ، ۲۰۱۷، مخ ۳۴۰
۱۲. د ازادۍ تحریک او باچاخان، مترجم سجاد ژوندون، اماراتو پښتو ادبي ټولنه، ۲۰۱۸ء، مخ۲۹